# نو په خوراک مو سره راټول شئ او د الله نوم پرې یاد کړئ، برکت به پکې واچول شي

له وحشي بن حرب رضي الله عنه څخه روایت دی چې: هغوی وویل: ای د الله رسوله! موږ خوراک کوو خو نه مړېږو. هغه وفرمایل: ښایي تاسې جلا جلا خورئ؟ هغوی وویل: هو، ویې فرمایل: « نو په خوراک مو سره راټول شئ او د الله نوم پرې یاد کړئ، برکت به پکې واچول شي.
[حسن] [أبو داود، ابن ماجه او احمد روایت کړی]

ځینو صحابه وو له نبي صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل: موږ خوراک کوو خو مړښت راته نه حاصلېږي. نو نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ښایي تاسې د خوړو پر مهال جلا جلا کېږئ او هر یو ځانته خوراک کوي؟ هغوی وویل: هو. ویې فرمایل: یو ځای شئ او جلا جلا خوراک مه کوئ او د خوړو پر مهال بسم الله وایئ، نو برکت به پکې راشي او مړښت به درته حاصل شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4212

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee